لاتویا

# زما شخصي معلومات ولې EURODAC ته لیږدول شوې دي؟

ب ډول

**د درېیم هېواد اتباع چې له یوه بهرني سرحد څخه د ناقانونه تېریدو په تړاو نیول شوي وي**



PASHTO

## دا بروشور زه ولې تر لاسه کوم؟

تاسې پرته له اجازې د اروپايي ټولنې+ هېواد له پولو څخه د تېرېدو پر مهال موندل شوي یاست.

په دغه بروشور کې د معلوماتو په اړه کوم چې د چارواکو لخوا به وساتل شي او دا چې د څومره وخت لپاره به وساتل شي، زیات معلومات شته.

## ولې باید زه خپل د ګوتو نښې او انځور ورکړم؟

د دې هېواد چارواکي به ستاسو د ګوتو نښې او انځور واخلي. دا معلومات او ستاسو د پېژندنې له معلوماتو او نورو اړوندو معلوماتو سره به یو ځای، د Eurodac ډېټابیز ته واستول شي.

Eurodac د مشخصو کټګوریو لرونکي خلک د هغوی د ګوتو د نښو او انځور په بې ساري مشخصاتو سره نښلوي، کوم چې د اروپايي ټولنې+ یوه هېواد اتباع نه دي.

دا ډېټابیز د اروپايي ټولنې+ د 31 هېوادونو لخوا کارول کېږي، چې کولای شي ستاسو معلومات پروسس او ترلاسه کړي. د اروپايي ټولنې+ هېوادونه د همدې بروشور په پای کې راغلي دي.

**تاسې اوس په لاتویا کې یاست، کوم چې د اروپايي ټولنې+ یو هېواد دی.**
**د اروپايي ټولنې+ هېوادونه دا دي:**

- د اروپايي ټولنې (EU27) غړي هېوادونه دا موارد دي: اطریش، بلجیم، بلغاریه، کروشیا، قبرس، چیک جمهوریت، ډنمارک، استونیا، فنلینډ، فرانسه، جرمني، یونان، هنګري، ایټالیا، لاټویا، لیتوانیا، لوکزامبورګ، مالټا، هالنډ، پولنډ، پرتګال، د ایرلینډ جمهوریت، رومانیا، سلواکیا، سلونیا، هسپانیه، سویډن او
- 4 نور هېوادونه: ایسلېنډ، لیچتنستین، ناروې، سویټزرلنډ.

## په EURODAC کې کوم معلومات زېرمه کېږي؟



لاندې معلومات له پخوا نه په کې زېرمه دي:

- ستاسې د ګوتو نښې
- ستاسې د مخ انځور
- ټول هغه نومونه چې تاسې اوس یا پخوا کارولي دي
- ستاسې د زوکړې نېټه
- ستاسې د زوکړې ځای
- ستاسې ملیت یا ملیتونه
- ستاسې جنسیت
- ستاسې د هویت یا د سفر د اسنادو کاپي کوم چې تاسې کارولي دي، او که چېرته موجود وي نو د هغوی د اعتبار په اړه معلومات هم په کې شامل دي
- د هغه افسر پېژندپانه کوم چې ستاسې د ګوتو نښې او انځور یې واخیست او هغه نېټې کله چې ستاسې معلومات واخیستل شول او انتقال شول
- هغه ځای او نېټه چې تاسې پرته له اجازې له پولې څخه د تېریدو په حال کې وئ.

لاندې معلومات به، که اړتیا وي، په Eurodac کې ثبت شي:

- په دې اړه معلومات چې ایا تاسې په داوطلبانه توګه خپل هېواد ته د بېرته ستنیدو غوښتنه منلې که نه
- د هغو وختونو په اړه معلومات چې تاسو خپل هېواد ته بېرته تللی یاست، څه دا ستاسو خپله پرېکړه وه یا که چارواکو مو بېرته استولی وي
- که چېرې تاسې بیا ځای پر ځای کېدو لپاره ټاکل شوي یاست، د اروپايي ټولنې+ د ځای پر ځای کېدو هېواد.

تاسو حق لرئ چې Eurodac کې ثبت شوي ناسم معلوماتو ته لاسرسی ولرئ او اصلاح یې کړئ، او غوښتنه وکړئ چې ستاسو معلومات حذف شي که دا معلومات په ناقانونه توګه اداره شوي وي.
تاسو کولای شي د معلوماتو کنټرولر (data controller) سره اړیکه ونیسئ. د معلوماتو د کنټرولر د اړیکې جزئیات کېدای شي د **«Eurodac په اړه د څه پوهېدو ته اړتیا لرئ»** په بروشور کې وموئ.

## زما شخصي معلومات به په Eurodac کې تر کومې مودې پورې ثبت وي؟



ستاسې معلومات به د 5 کلونو لپاره زېرمه وي او له هغه وروسته به په اتومات ډول سره پاک شي.

که چېرې تاسې د اروپايي ټولنې+ يوه هېواد کې د همدې دورې له انقضاء څخه وړاندې تابعيت تر لاسه کړئ، نو ستاسې معلومات به پاک شي. که ستاسو معلومات حذف شي، دا به په هغه هېواد کې چې تا تابعيت ترلاسه کړی، ستاسو موقف ته زيان ونه رسوي.

## ايا په EURODAC کې کوم نور معلومات زېرمه کېږي؟

د امنيتي ارزونې پايله ثبتېږي که چېرې چارواکي دا ومومي چې تاسو ښايي:

- وسله ولري
- تشدد کوونکی ياست
- په ترهګريزو جرمونو کې ښکېل پاتې شوی وي
- داسې يو جدي جنايت موکړی وي چې له امله يې د اروپايي ټولنې+ په بل هېواد کې ونيول شئ.

په دا شان حالاتو کې به دا په پام کې ونيول شي چې کېدای شي تاسو داخلي امنيت ته ګواښ پېښ کړئ. دا به په Eurodac کې له پورته نورو د پلې کېدو وړ دليل يا دلايلو سره زېرمه شي کوم چې پورته يې بيان راغلی.

که چېرې د اروپايي تولنې+ هېوادونه نور تاسې د خپل داخلي امنيت لپاره کوم ګواښ و نه بولي، نو بيا به دا معلومات پاک شي.

تاسو حق لرئ چې Eurodac کې ثبت شوي ناسم معلوماتو ته لاسرسی ولرئ او اصلاح يې کړئ، او غوښتنه وکړئ چې ستاسو معلومات حذف شي که دا معلومات په ناقانونه توګه اداره شوي وي. تاسو کولای شئ د معلوماتو کنټرولر (data controller) سره اړيکه ونيسئ. د معلوماتو د کنټرولر د اړيکې جزئيات کېدای شي د **«Eurodac په اړه د څه پوهېدو ته اړتيا لرئ»** په بروشور کې ومومئ.

دا بروشور يوازې د معلوماتي موخو لپاره دی. دا پخپله حقونه يا مکلفيتونه نه رامنځته کوي. نه د اروپايي اتحاديې د پناه غوښتنې اداره (EUAA) او نه هم کوم شخص چې د دې ادارې په استازيتوب عمل کوي، په دې يادښت کې د شاملو معلوماتو د احتمالي کارونې مسؤل نه ګڼل کېږي.

© پناه غوښتنې لپاره د اروپايي اتحاديې اداره، 2025